مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۰/۱۲/۲۳

# محمد هاشم زماني

## خان، سیاستوال او شاعر




ارواښاد محمد هاشم زماني په ۱۳۰۷ هجري لمريز (۱۹۲۸میلادي) کال کې د کونړ ولایت د نرنګ ولسوالۍ د لمټک په کلي کې د استقلال د چترال جبهې د فاتح، غازي میر زمان خان په کور کې زیږیدلی دی. لمرنۍ زده کړې ئې په خپل کور، کلي او جوماټ کې د وخت د علماوو نه ترلاسه کړې. په تنکۍ ځوانۍ کې چې عمر یې له شپاړسو کالو زیات نه وو د خپلې تولې کورنۍ سره چې شمیر ئې له سلو کسانو څخه اوړیده، د سیاسي بندیانو په توګه حکومت د دهمزنګ زندان ته واستول.
تاند او هڅاند محمد هاشم د خپلې ځوانۍ دیارلس کلونه د همدغه زندان په نمناکو خونو کې د خپلې کورنۍ د غړو سره تیر کړل. په زندان کې له ګڼ شمیر نورو سیاسي بندیانو لکه د غلام نبي خان چرخي کورنۍ، یعقوب خان غونډ مشر، سرحدار عبدالغفار خان، سرور جویا، ډاکټر محمودي، فرقه مشر غلام نبي خان او نورو سره معرفي او هم صحبته شو. محمد هاشم زماني په زندان کې د مروجه علومو په زده کړې پیل وکړ او د هیواد د مشروطه غوښتونکي، دینی عالم او سیاسي شخصیت، بابا عبد العزیز الکوزي او مولانا محمد اکرم کاکاخیل په شان د علمي شخصیتونو سره د شاګردۍ، ناستې پاستې او فکري تنوع فرصت ور په برخه شوو.
زماني په زندان کې د ناروغیو او ناوړې تغذیې له امله د خپلې کورنۍ د ۲۸ تنو غړو د مرګ شاهد وو. هغه خپل لمرني اشعار هم په زندان کې لیکلي او د زنداني احساس په مجموعه کې یې راټول کړیدي.
نوموړی د خپلې کورنۍ سره د دیارلسو کلونو سیاسي بند نه وروسته هرات ته تبعید او په ۱۳٤۳ لمریز کال کې د نوي اساسي قانون تر جوړیدو پورې د اتو کلونو لپاره هلته د تبعید ژوند تیرکړ. د محمد هاشم زماني لیکل شوي اشعار، مضامین او ادبي توتې د وطن په اکثرو ورځپاڼو او مجلو لکه انیس، هیواد، اصلاح، وړانګه، سیستان، طلوع افغان، بیدار او اتفاق اسلام کې خپاره شویدي. هغه د دیموکراسۍ په لسیزه کې قلمي مبارزه وکړه او د شهید ولسمشر، محمد داود د جمهوریت د دورې په لویه جرګه کې یې د کونړ د وکیل په توګه برخه واخیسته.
زماني د ۱۹۷۹م کال په وروستیو کې پیښور ته هجرت وکړ، خو د ژبې او قلم مبارزه یې پخه نه شوه. د کډوالی په مهال یې لمرني کتاب (قطبي خرس) ولیکه چې بیا په انګریزي ژبه ترجمه او ځینې برخې یې فرانسوی، ایټالوی او هسپانوی ژبو ته هم واړول شوې. نوموړي د جهاد په دوران کې په ځینو کورنیو او بهرنیو کنفرانسونو کې ګډون او سفرونه وکړل.
لکه چې تولو په غریدلو سترګو ولیدل د مهاجرت په چاپیریال کې یو شمیر هغه منور او عالم شخصیتونه چې د دین د مبارکو احکامو تر څنګ یې د هیواد خوږین حالت ته د ملي زاویې څخه هم کتل، په خپلو وینو کې ولمبیدل. جنرال عبد الحکیم کتوازی چې یو ربتیني او مسلکي جنرال وو، پوهاند بهاء الدین مجروح چې د هیواد یوه علمي او کدري سرمایه وه، عزیز الرحمن الفت چې د ارواښاد ګل پاچا الفت ځوی او پخپله یو ادیب ځیرکه شخصیت وو، ځرنګه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ترور او د چپ کولو پخاطر يې خونکارۍ هڅې وشوې. ښاغلی زماني هم زړه نا زړه د دغسی زاره چاودي حالت له امله په ۱۹۸۷م کال کې د امریکا متحدو ایالتونو ته کډه او د کلیفورنیا د بې ایریا په سیمه کې میشت شو.
د زماني د پښتو او دري ژبو ځینی اشعار د زنداني احساس، قطبي خرس او سرې خوره بلا څخه علاوه، د آزادۍ مشال، د ازادۍ ارمان، خواره ګلونه او د سولې زمزمې کتابونه، تالیف او چاپ کړل. که څه هم هاشم زماني په ۱۹۹۰ کال کې د زړه د دوهمې حملې او مغزو د سکتې له امله د اوږدې مودې په ناروغۍ اخته او د وجود يوه خوا يې فلج شوې وه، خو د افغانستان د حالاتو سره د ژوند تر وروستی سلګۍ پورې تړلې پاتی او خپلو ادبي او فرهنګي فعالیتونو ته يې ادامه ورکړه.
له وفات څخه يې فکر کوم دری میاشتې وړاندی، زه د خپل اروابناد ماما، څارنوال صیب عبد الرزاق صافي سره د ده پوښتني او سلام ته ورغلم چې دغه مهال د سانفرانسیسکو د هیورډ په ښار کې اوسیده. په داسی حال کې چې په ګرځندې چوکې (ویل چیر) کې ناست او وطني پټو يې په زنګونو اچولې وو، په مخامخ میز ورته يو انبار کتابونه پراته وو. له کوټې روغبړ وروسته يې لمړنی خبره دا وه چې تازه خبر څه دی او له وطنه خو څوک نوي ندي راغلي؟
محمد هاشم زماني د کونړ د لوی خان کشر ځوی وو، خو لهجه يې دهقاني وه، سیاستوال وو خو په خبرو کې يې دوه رنګي نه وه. د شعر رنګ يې ولسي، ژبه يې کلیواله او راشه درشه يې ساده وه. د خورو ګلونو دوهم ټوک، د زخمي زړه په عنوان د اشعارو ټولګه او د زنداني خاطراتو په نوم د پښتو نثر يې ښې بیلګې دي. د پوهني د ملي انقلاب په نوم کتاب په دوهم ټوک يې د ژوند تر وروستی شیبې کار کاوه خو مرګي پرینښود. خان، سیاستوال او شاعر، محمد هاشم زماني د ۱۳۸۴هجري لمريز کال د غبرګولي د میاشتې په نولسمه (۲۰۰۵/ جون) د شپږ اویا کلنۍ په عمر د زړه د ناڅاپي حملې له امله وفات، جنازه يې کونړ ته انتقال او هلته خاورو ته وسپارل شو. د شعر يوه کوچنی ټوټه يې په دی ډول ده:

دا خزان وطن به مې بهارستان شي، زه به يم او يا به نه يم
زاغان ځی ور داخل به بلبلان شي، زه به يم او يا به نه يم
ولسونه شا ته نه، په مخ روان وي
افغان ولس به مخکی هم روان شي، زه به يم او يا به نه يم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ